# د پښتنو د تاریخ ستر اتل

**عثمان خټک**

تاریخ هر قام ته د هغوي د عمل او جدوجهد په رڼا کښې خپله برخه ورکړې ده او د هر قام آئینه ئې ځان سره خوندي کړې او محفوظه کړې ده. دا سې آئینه چې سړے ور کښې ځان او د قام مخ څرګند وینې ګوري.

پښتون قام هم په دې تاریخي ورثه کښې ځان ته جوت مقام لري. یو دا سې مقام چې هسک سر ئې د تاریخ په پاڼو کښې ډیر په افتخار محفوظ دے. پښتون قام کښې وخت په وخت دا سې شخصیتونه زیږېدلي دي چې هم ئې تاریخ کښې ځان ته ځائے کړے او هم ئې د قام سر هسک کړے دے.

د دا سې شخصیتونو په دې تاریخي ورثه کښې د پښتنو لوئے سالار او د پښتون قام د ازادۍ او سیالۍ لوئے مبارز د جنوبي ایشیاء په اسمان لکه د نمر څرګند خپلې پلوشې خوروي چې ګرده نړۍ ئې د فخر افغان باچا خان په نوم پېژني.

د باچا خان شخصیت ګڼ اړخونه لري. هغه د ازادۍ مبارز، د پښتون د سیالۍ او ودانۍ راهرو، د خدائي خدمتګار سپه سالار، د انجمن اصلاح افاغنه بنیاد ایښودونکے، د عدم تشدد د نوي طرز سیاست مبلغ، غرض په یو وجود کښې یوه لویه دنیا وه.

دلته د هغوي د شخصیت ځینې اړخونو ته یوه لنډه شان کتنه کوو:

باچا خان د خپل ژوند ابتدائي برخه کښې د پښتون د اصلاح د پاره دا غوره وګڼله چې پښتون قام تر څو د علم د رڼا نه مستفید نۀ شي، ترقي نۀ شي کولې او د دنیا سره خپله سیالي نۀ شي قائمولې، دې لړ کښې هغوي خپل جدوجهد شروع کړو او په دې سلسله کښې ئې د ټولو نه اول په اتمانزو کښې د مدرسې پرانسته وکړه او د نورو مدرسو د پاره ئې هلې ځلې شروع کړې او د غه شان ورو ورو ئې په ټوله صوبه کښې دا سلسله خوره کړه.

انګریز ته چې دا اندازه ولګېده چې پښتون قام چې تعلیم یافته شي نو بیا پرې حکومت کول ګران دي نو هغوي د باچا خان د دغه مشن د لارې نیولو فېصله وکړه. د باچا خان پلار د ضلعې کمشنر وغوښتو او ورته ئې ووئیل چې د سکولونو پروګرام دې ختم کړي نور چې څۀ کوي هغه دې کوي خو باچا خان دې فېصلې ته غاړه کښې نۀ ښوده او د ازادو مدرسو دغه پروګرام ئې د اتمانزو نه بهر دیر د خال په کلي کښې، په صوابۍ کښې په شېوه کلي کښې او بیا وروستو په نورو علاقو کښې خور کړو.

په اتمانزو کښې باچا خان په خپله په ازاد سکول کښې هلکانو ته سبق ښودلو. پېرنګي ورته لاره کښې خنډ شو نو دا اصلاحي پروګرام په سیاسي پروګرام کښې بدل شو.

**باچا خان او د هغوي سیاسي مبارزه:** د پېرنګي خلاف د ازادۍ په تحریک کښې د باچا خان حصه د ټولو نه کۀ زیاته نۀ ده نو د چا نه کمه نۀ ده. په خپل سیاسي ژوند کښې هغۀ د ازادۍ تحریک د پاره پېښور جېل، ګجرات جېل، د احمد اباد سابرمتي جېل، بریلي جېل، الموړې جېل او مچ، سکهر او ډېرو جېل او هري پور جېل د تورو تمبو د ننه ۳۳ کاله تېر کړي وو او دا نن چې برصغیر کښې په دې ازاده فضا کښې مونږ ساه اخلو، د باچا خان د تحریک او د هغوي د ملګرو ټینګ عزم او د لوړو حوصلو برکت دے چې هره سخته ئې په ځان زغملې خو غلامۍ ته ئې سر نۀ دے ټیټ کړے.

**باچا خان او پښتون قام پرستي:** باچا خان پښتون قام پرستۍ ته هم نوې معنې ورکړه او پښتون ئې د قبائلي سماج په ځائے ملي وحدت ته راوپارولو. باچا خان د قبائلي سماج د پرو جنبو په ځائے د قامولۍ وښا وکړه او وخت دا خبره ثابته کړه چې د هغۀ د هغه وخت وښا د هغه وخت په چوکاټ او د نن په معروضي حالاتو کښې څومره حقه او صادقه ده. د هغۀ دا قول لکه د کاڼي کرښه ده "دا ننۍ دنيا د قامولۍ دنيا ده کۀ قوم شوئ نو ستاسو دنيا به هم اباده شي".

**عدم تشدد:** د خپل سياسي جدوجهد په دوران کښې هغۀ د يو داسې جديد سياست بنياد کېښودو چې بېخي بدل او ډېر ګټور ثابت شو. د عدم تشدد په حقله د هغۀ وښا او زورنه د نن د سياست محور دے.

"د تشدد نه نفرت او د عدم تشدد نه محبت پېدا کېږي"

د باچا خان سوچ او فکر چې د مسئلو حل ټوپک او ګولۍ په زور ممکن نۀ دے بلکې د سياسي جدوجهد غوره لار، جلسې جلوسونه او خپله خبره په دليل په مخه بوتلل دي. باچا خان د عدم تشدد لار خپله کړه او د عدم تشدد داعي وګرځېدو.

**د ژبې او ادب خدمت:** د خپل سياسي جدوجهد سره سره باچا خان د خپلې مورنۍ ژبې او ادب په خدمت کښې هم مهم رول لوبولے دے. دې سلسله کښې هغه د پښتون رسالې اجرا وکړه ورسره ورسره په خپلو ازادو مدرسو کښې به ئې په خپله ژبه کښې تعليم ورکولو ځکه چې په خپله ژبه کښې زدکړه هم ښه کېږي او اسانه هم وي. د خپلې ژبې سره ئې د بې کچه مينې دا واقعه د رقم کولو ده.

"يوه ورځ زۀ د امان الله خان ملاقات له تلے وم، ډېرې خبرې مې ورسره وشوې په خبرو خبرو کښې مې ورته ووې تاله تُرکي درځي، فارسي درځي او نورې ژبې هم درځي خو خپله ژبه نۀ درځي. زما خبرې په هغۀ ډېر اثر وکړو او وعده ئې راسره وکړه چې زده کوم به ئې چې د افغانستان نه ووښتلے شو ، زۀ ممبۍ ته د دۀ ليدو له ورغلم نو هلته ئې ماسره په پښتو خبرې وکړې".

ورسره ورسره ئې يو اخبار هم جاري کړو چې د ژبې او ادب خدمت سره سره ئې د هغوي فکري انقلاب ته هم وده ورکوله.

**د زنانهٔ تعليم:** باچا خان د خپل قام د نر او ښځې دواړو د تعليم حامي او مبارزه کونکے ؤ، د هغۀ وښا ده چې "زما خيال ورځ په ورځ د جينکو تعليم و تربيت طرف ته زياتېږي ولې چې زۀ دا خبره د خپل قام د پاره خطرناکه ګڼم چې هلکانو له خو دې تعليم ورکړے شي او جينکۍ دې د علم نه محرومې کړې شي".

باچا خان اول په خپلې لُور سبق ووئيلو او مثال ئې قائم کړو.

**سماجي انقلاب:** باچا خان په پښتنه معاشره کښې يو ډېر لوئے انقلاب راوستو، دغه انقلاب سماجي ؤ. پښتون په دغه وخت په يوې طبقاتي معاشره کښې ژوند کولو، باچا خان د دغو طبقاتو د نرولو هڅې وکړې او د پښتانۀ ئې په د ورورولۍ په يو مزي کښې وپېيل. غرض زمونږ په مخکښې نن د باچا خان افکار لکه د شمعې بلېږي، پکار ده چې مونږ دغه مشالونه ځان سره واخلو او د پښتون اولس او قام دغه تاريخي سفر تر منزله ورسوو. دا به يو خوا د بابا د ارمانونو د تعبير صورت وي او بل خوا به پښتون قام د ترقۍ، خوشحالۍ، ودانۍ او سوکالۍ په لور د تګ وسيله وي.